فقیر

۱۳ جنوری ۲۰۲۴

## افغانستان ته د پاکستانی ملا فضل الرحمن راتک، پیغام او احکام

ملافضل الرحمن په داسي وخت کی افغانستان ته راغی چی پاکستانی طالبانو په پنجابی ملیشو څو بریدونه کړي دي. له بلي خوا د بلوڅانو د آزادی بخښونکی غورځنګ غړو نوي تحرکات شروع کړي دي. د دې تر څنګ په افغانستان کې د مهاجرو په بیرته راشړلو سره یو شمیر ځوان طالبان د پاکستان په ضد احساسات ځرګندوي. دا آوازې یی هم اچولی چی افغانستان به د کونړ پر سیند به بند جوړ کړي.

ملا فضل الرحمن کابل ته راغی او د طالبانو د کابینی وزیران یي وروغوښتل لومړی پیغام یی داو چی افغانستان کی د تعلیم په پرتله دفلسطین جهاد مهم دی.

دا هغه خبره ده چی هیڅ پاکستانی یی پاکستان کی نه کوی، خو خبره چي د افغانانو شی، دوی بیا افغان بیچاره جنګونو او جهادونو ته لمسوی.

خو باید ملاصاحب ته ووایو چی :

افغانان لا هغه وخت داسلامی اخوت او د ایمانداری پربنا د انګریز، صهیون او یهود سره مخالفت کاو چی ستا نیکه صوبه دار خلیل د انګریز رکاب کی منډی وهلی او دهغوی نوکری اوشاطری یی کوله، بیا هم غیرتی او مؤمن افغانانو هغه وخت هم اسراییل غندل او د فلسطین مظلوم ملت سره همغږی و چی د ضیاءالحق په ګډون ډیر نور پنجابی عسکر او ضابطان د عربو مسلمانو په قتل لګیا وو او د ډګرمنی رتبی ته ورسیدل. اوس هم تر هر پاکستانی څخه افغانان په اسلامی اخوت ښه پوهیږی ستا د نصیحت ضرورت نشته. اما د تعلیم مسئله افغانانو ته د دوی د حیاتی موضوع په شان اهمیت لری او خپل دا حق به که ته وغواړ یا ونه غواړی تر لاسه کوی.

بله خبره یی د سیندونو او اوبو وه. د طالب چارواکو د اوبو او بریښنا وزیر یی وروغوښت او د کونړ اونورو سنیدونو د بندونو دنه جوړولو خبر داری یي ورکړ. موږ ورته وایو چی ملا صاحب ته حق نلری چی زموږ د منابعو په هلکه خبری وکړی تا دی خدای په اوبو موړ کړی.

بله خبره یی طالبانو ته داوه چی یا د پنجاب خوښ کړی یا د پاکستانی طلبانو تحریک! دا خبره یی په اخطار آمیزه بڼه کړې ده. خدای وکړي زموږ افغانان په دې دریو خبرو په دقت سره غور وکړي او پایله یي ځانته روښانه کړي. مهمه دا ده چي افغانان باید د پنجاب ناوړه، حریصانه او شیطانی نیتونو باندی پوه شي.